# الليل

**مکی سورة دی ۲۱ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰ ١

**(قسم) په شپه چې هر څه پخپله تیاره کې پټ کړی.**

وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ٢

**او (قسم )په ورځ چې راڅرګنده او روښانه شی.**

وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ٣

**او قسم په هغه ذات چې نر او ښځه یې پیدا کړی دی.**

إِنَّ سَعۡيَكُمۡ لَشَتَّىٰ ٤

**چې ستاسو هڅې او کوښښونه( هم د پورتنیو واقعیتونو په شان سره مختلف او) جلا جلا دی.**

فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ٥

**نو څوک چې (خپله شتمنی د الله تعالی په لار) کې صدقه کړی او د تقوا لاره ونیسی.**

وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٦

**او( د انفاق او پرهیزګاری د اجر او ثواب لپاره د الله تعالی اعلان شوې) نیکه وعده موثقه او باوری وګڼی.**

فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ٧

**نو( د نیکو اعمالو همت او توفیق به ورکړو او د هغې ابدی هوسایی او سوکالۍ) لاره به ورته آسانه کړو( چې نوم یې جنت دی).**

وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ ٨

**او چا چې له انفاق او صدقې نه لاس واخست او په بخل سره يې ځان بې پروا وګڼه.**

وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٩

**او( د انفاق او تقوا د اجر او ثواب لپاره يې د الله تعالى) نيکه وعده دروا‌غ وګڼله.**

فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ ١٠

**نو د ژوند ټولې لارې به ورته سختې او کړکيچنې کړو ( او د نيکو اعمالو همت به ترې هم واخلو).**

وَمَا يُغۡنِي عَنۡهُ مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدَّىٰٓ ١١

**او د تباهی په وخت به يې مال او شتمنی (له الهی عذابه) و نه ژغوری.**

إِنَّ عَلَيۡنَا لَلۡهُدَىٰ ١٢

**بې له شکه چې هدايت زمونږ په واک کې دی.**

وَإِنَّ لَنَا لَلۡأٓخِرَةَ وَٱلۡأُولَىٰ ١٣

**او دنيا او آخرت هم زمونږ د مالکيت او سلطنت تر ولکې لاندې دی.**

فَأَنذَرۡتُكُمۡ نَارٗا تَلَظَّىٰ ١٤

**نو تاسو ته د لمبو او غرغندو وهونکی اور د عذاب اخطار درکوم.**

لَا يَصۡلَىٰهَآ إِلَّا ٱلۡأَشۡقَى ١٥

**چې تر ټولو بدبخت کسان به ورغورځيږی.**

ٱلَّذِى كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾

**هغه چې( حق دین) درواغ ګڼی او مخ ترې اړوی.**

وَسَيُجَنَّبُهَا ٱلۡأَتۡقَى ﴿١٧﴾

**او پرهیزګاران به ترې لیرې وساتل شی.**

ٱلَّذِى يُؤۡتِى مَالَهُۥ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾

**هغه چې خپل مال او شتمنی د پاکولو لپاره صدقه کوی.**

وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعۡمَةٍ تُجۡزَىٰٓ ﴿١٩﴾

**او د خپل خیرات او انفاق په مقابل کې له هیچا بدله نه غواړی.**

إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٢٠﴾

**بلکه هدف او ارزو یې د خپل بزرګوار رب د رضا حاصلول وی.**

وَلَسَوۡفَ يَرۡضَىٰ ﴿٢١﴾

**او یقیناً چې ډیر زر به د خپل رب د رضا( رحمت ، مهربانی او مغفرت سره د ابدی او تلپاتې خوشالی او نیکمرغی) ویاړ تر لاسه کړی.**

**« تمت سورة الليل بفضل الله و رحمته»**

**======================**